## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**20قوس_سال 1403**

خبرنامه





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**

**په مهاجرینو وزارت کې د راتلونکي کال لپاره د اړتیاوو په اړه ناسته وشوه -----------------------------------------1**

**کارساخت ده ها باب مبرز و ترمیم شبکه های آب، در ولایت لغمان آغاز شد-----------------------------------------1**

**لغمان کې سلګونو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه ----------------------------------------------------------------2**

**ده ها خانواده در ولایت ننگرهار، کمک شد---------------------------------------------------------------------3**

**پکتیکا کې د همغږۍ ناسته وشوه ---------------------------------------------------------------------------4**

**ادامه اخراج مهاجران افغان از پاکستان و ایران؛ ده‌ها خانواده وارد کشور شدند ------------------------------------5**

**د بشار الاسد د واکمنۍ پای: د اروپا په یو شمېر هېوادونو کې د سوریایانو جشن ----------------------------------6**

**فرانسه: پا دو کالې ساحل کې یو بل مړی موندل شوی دی -------------------------------------------------------9**

**کانال مانش: امدادگران یک جسد دیگر را در نزدیکی کاله پیدا کردند ---------------------------------------------10**

# متن کامل اخبار

## په مهاجرينو وزارت کې د راتلونکي کال لپاره د اړتياوو په اړه ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**د راتلونکي 1404 هجري لمريز کال د اړتياوو په اړه د لازمو او دقيقو لاربښوونو د برابرولو په موخه د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت کې د تدارکاتو امريت له لوري د مرکزي رياستونو د اجرايوي امرينو او مديرانو په شتونکې د وزارت په تالار کې ناسته وشوه.**

**پيل کې د تدارکاتو امر محمد جمال ځدراڼ خبرې وکړې او ويې ويل: په پام کې لرم چې موږ اراده لرو چې د راتلونکي کال 1404 هجري لمريز کال د اړتياوو او تدارکاتي پلانونو پر بنسټ کار پيل کړو او د بوديجې امريت سره په همغږۍ ترتيب او د هغې له مخې به مخ ته ځي.**

**هغه په تدارکاتو کې سپما کول يو مهم اصل وباله او زياته يې کړه: که اړتياوې په سطحي توګه په پام کې ونيسو، نو په راتلونکي کې به له ستونزو سره مخ شو، هر څومره چې اړتياوې دقيقې او منظمې وي، په راتلونکي کې به هم په ښه توګه پلې شي.**

**ورپسې د پورتنۍ موضوع په اړه د تدارکاتو رياست د قراردادونو د اسانتيا او پلان جوړونې رئيس اجمل نصرت لخوا چمتو شوی پريزنټيشن په تفصيل سره وړاندې شو.**

## کارساخت ده ها باب مبرز و ترمیم شبکه های آب، در ولایت لغمان آغاز شد

ویب سایت وزارت



به اساس گزارش ریاست مهاجرین ولایت لغمان، کار ساخت 43 باب مبرز، ترمیم دو شبکه آب، توزیع 310 بسته صحی و برنامه آگاهی دهی در ولسوالی علینگار آن ولایت، بتاریخ 19 قوس سال روان آغاز شد.

به گفته مولوی غلام رحمن بلال رییس مهاجرین آن ولایت با تطبیق پروژه های متذکره یک هزار و 71 خانواده بیجاشده، برگشت کننده و مردم محل از آن مستفید خواهد شد و برای ده ها تن از جوانان زمینه کاری نیز فراهم میگردد.

پروژه های یاد شده به ارزش چهار اعشاریه چهار میلیون افغانی با حمایت مالی موسسه AHF تطبیق میگردد.

## لغمان کې سلګونو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**د لغمان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په هلو خلو او د AHF موسسې په مالي مرسته د لېندۍ پر نولسمه په دغه ولایت کې ۴۶۰ کورنیو هر یوې ته یوه روغتیايي کڅوړه ووېشل شوه.**

## ده ها خانواده در ولایت ننگرهار، کمک شد

ویب سایت وزارت



**برای ۸۰ خانواده، در ولایت ننگرهار کمک خوراکی بتاریخ ۱۸ قوس توزیع شد.**

**خانواده ها شامل برگشت کننده گان، آسیب پذیر و بیجاشده گان بوده که قبلاً از طرف ریاست مهاجرین آن ولایت، مورد شناسایی قرار گرفته بودند.**

**کمک متذکره شامل ۳ قلم مواد خوراکی از جانب موسسه ARCU بود که با نظارت ریاست امور مهاجرین توزیع شد.**

## پکتیکا کې د همغږۍ ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**پکتیکا ولایت کې تېره ورځ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست او د همکارو موسسو استازو تر منځ د همغږۍ ناسته وشوه.**

**په دې ناسته کې د پکتیکا مهاجرینو رییس له همکار موسسو څخه ژمي وړاندې د راستنو شویو، بې ځایه شویو او اړمنو کورنیو سره د مرستو غوښتنه وکړه.**

**بل لورته د همکارو موسسو استازو خبرې وکړې، خپل راتلونکي پلانونه یې شریک کړل او د مرستو په اړه یې خپلې ژمنې وکړې.**

## ادامه اخراج مهاجران افغان از پاکستان و ایران؛ ده‌ها خانواده وارد کشور شدند

خامه پرس



مسوولان در وزارت امور مهاجران و عودت کنندگان می گویند که ده‌ها خانواده  اهل افغانستان پس از اخراج از کشور های پاکستان و ایران دواره وارد افغانستان شدند.

خبرگزاری باختر امروز ( دوشنبه، 19قوس)  به نقل از وزارت امور مهاجران خبر داده که خانواده افغان، از هشتاد و نه خانواده افغان از طریق  قندهار، ننگرهار، نیمروز و هرات، به کشور برگشتند.

این وزارت افزوده که این خانواده ها، هنگام بازگشت به کشور، از سوی کمک دریافت کردند و برای دریافت کمک های بیشتر، به نهاد های کمک رسان داخلی و بین المللی، معرفی شدند.

مهاجرین افغانستان در حالی از کشور پاکستان  اخراج می‌شوند که روند اخراج مهاجرین اهل افغانستان از کشور های همسایه به ویژه ایران و پاکستان در ماه‌های پسین افزایش  چشمگیری داشته است.

روز گذشته نیز وزارت امور مهاجران از اخراج ده ها خانواده و برگشت آنان دوباره به کشور خبر داده بود.

## د بشار الاسد د واکمنۍ پای: د اروپا په یو شمېر هېوادونو کې د سوریایانو جشن

مهاجرنیوز



په سوریه کې د بشار الاسد د واکمنۍ له ړنګېدو سره سم د اروپا په یو شمېر هېوادونو کې زرګونه سوریایان د یکشنبې په ورځ سړکونو ته راووتل او خوښۍ یې وښودلې. که څه هم دمګړی د سوریې راتلونکی ناڅرګند دی، خو ډېری سوریایان بیا د بشار الاسد د ۲۴ کلنې واکمنۍ پای د دغه هېواد په تاریخ کې یوه مهمه شېبه بولي .

شل کلن سلیمان چې د سوریې دی کډوال نیوز ته وایي: «زه د نورو خلکو په شان خوشاله یم، خو له راتلونکي څخه وېره لرم. هیله لرم چې هېواد کې به مې وضعیت ښه شي او موږ وکولی شو چې له خپلو ماشومانو سره سوریې ته ستانه شو«.

محمد یو بل کډوال دی چې له ۱۳ کلونو راهیسې په فرانسه کې اوسېږي. هغه وایي: «زه سلماني لرم او اته کاله کېږي چې په دغه کار بوخت یم. ډېر خوشاله یم، په ځانګړې توګه د بندیانو د خوشي کېدو له امله. پرون مو په رپوبلیک ډګر کې شعار ورکاوه چې د اسد حکومت نسکور شو «.

پرون یکشنبه، له یونان څخه چې په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو کې اروپا ته د سلګونو زرو کډوالو د اوښتو لار بلل کېده تر جرمني، برېتانیا او فرانسې پورې زرګونو سوریایانو لاریونونه وکړل او بشار الاسد د کورنۍ د اوږدې واکمنۍ د ړنګېدو شېبې ونمانځلې.

سلګونه نور سوریایان د دغې تاریخي شېبې د نمانځلو لپاره د پاریس په رپوبلیک ډګر کې راټول شوي وو. دغو سوریایانو سمندرې ویلې او نڅا یې ورسره کوله. یوې سوریایۍ محصلې د فرانسې نړیوالې راډیو ته وویل: «دا لومړی ځل دی چې ژوره ساه اخلم. دا یوه ځانګړې ورځ ده چې تصور یې نه کېده«.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

حارث یو سوریایی کډوال دی چې څو کاله یې په همدغه ډګر کې د له نورو سره یو ځای د سوریې د ازادۍ لپاره لاریون کړی دی. هغه وویل: «دا د جګړې په پیل کې زموږ لومړنیو مظاهرو ته ورته ده. باور مو نه راځي. دا جګړه د سوریې خلکو وګټله. دا زموږ لپاره د ویاړ ځای دی«.

یوې بلې ښځې د رژیم پر سقوط یې خوشالي څرګنده کړه: «دا لومړی ځل دی چې موږ ویلی شو اسد نور نشته، د اسد کورنۍ نور نشته، اسد نور حکومت نه کوي.» هغې وویل چې دا ورځ یې نه شي توصیفولی .

که څه هم دغه سوریایان پوهیږي چې د اوس لپاره سوریې راتلونکی ناڅرګند دی، خو دوی وایي چې غواړي بېرته خپل هېواد ته ستانه شي او په بیا جوړولو کې یې ونډه ونیسي .

»اوس د جشن وخت دی«

المان د اروپا یو له هغو هېوادونو څخه دی چې له ۲۰۱۵ راهیسې یې څه باندې یو میلیون سوریایي کدوال منلي دي. زرګونو سوریایانو پرون یکشنبه د بشار الاسد د رژیم د ړنګېدو په مناسبت د برلین په کروزبرګ کې لاریون وکړ چې پکې زیاتې کورنۍ هم وې .

د فرانسې نړیوالې راډیو د خبریالې په وینا، دغه کسان د جشن لپاره راټول شوي وو، چک چکې یې کولې او د سوریې بیرغونه یې په موټرو ځړولي وو .

صبا او ملګرو یې هم په دغه لاریون کې ګډون درلود. صبا د فرانسې نړیوالې راډیو ته وویل: «دوی اسلام پلوه ډلې نه دي، د سوریې وګړي له اسد سره مخالف دي. خو الماني رسنۍ وایي چې دوی اسلام پلوه ډلې دي... اوس د جشن وخت دی. له ۶۰ کلونو استبداد وروسته«.

یو بل لاریونوال وویل» :زموږ د تره دوه زامن له تېرو ۱۲ کلونو راهیسې لادرکه ول. موږ فکر کاوه چې دوی مړه شوي دي. خو نن یې نومونه د هغو کسانو په لېست کې خپاره شول چې له زندانه خوشي شوي دي«.

که څه هم د المان لومړي وزیر الاف شولتڅ د اسد د رژیم سقوط ته هرکلی ویلی، خو د نوموړي د بهرنیو چارو وزیرې انالېنا بایربوک په دې اړه اندېښنه څرګنده کړې ده چې واک تندلارو ته په لاس ورشي .

وېرې او اندېښنې

د یونان په پلازمېنه اتن کې هم یو شمېر کسان سېنتاګما ډګر کې راټول شوي او جشن یې جوړ کړی و. خو ځینو سوریایانو بیا د خپل هېواد د راتلونکي په اړه اندېښنې درلودې او له احتیاط سره یې خبرې کولې .

سوریایۍ زده کوونکې مارام پرون دغه ډګر ته ورغلې وه. هغه او کورنۍ یې له تېرو ۷ کلونو راهیسې په یونان کې اوسېږي. مارام د فرانسې نړیوالې راډیو خبریالې ته وویل: «موږ سوریه کې د روان حالت په اړه ډېر خوشال یو. هېواد مو بېرته موږ ته راکړل شو او اوس به وضعیت ښه شي. هېڅوک نه غواړي چې په یوه جګړه ځپله سیمه کې ژوند وکړي«.

عبدالرحمن الدیاب یو ۴۰ کلن سوریایی دی. هغه چې سېنتاګما ډګر ته ورغلی په ډېر احتیاط سره یې خبرې کولې: «دا ډېره ښه خبره ده، خو نه پوهېږم اوس سوریې ته د بېرته ستنېدو لپاره ښه وخت دی که نه. دمګړی په دمشق، حلب، حمام او حمس کې د اپوزیسیون بېلابېلې ډلې لیدل کېږي. وېره مې دا ده چې دغه ډلې په راتلونکو ورځو کې د واک د لاسته راوړلو لپاره له یو بل سره جګړه وکړي«.

وسله والو جنګالیو چې د هیئت تحریر شام سره تړاو لري په یوه چټکه جګړه کې د یکشنبې په ورځ د نومبر ۸ د سوریې پلازمېنه دمشق ونیوه .له دې سره په سوریه کې د اسد د کورنۍ ۵۴ کلنه واکمني پای ته ورسېده .

## فرانسه: پا دو کالې ساحل کې یو بل مړی موندل شوی دی

مهاجرنیوز



د فرانسې د پا دو کالې اسکال ساحل ته څېرمه د یکشنبې په ورځ یو بل مړی موندل شوی دی. د تېر اکتوبر له پای راهیسې دا پنځه لسم جسد دی چې د فرانسې د شمالي سواحلو په اوږدو کې موندل کېږي .

د فرانسې خبري اژانس د یوې سرچینې له خولې لیکلي دي چې د پا دو کالې یو ساحل ته نږدې د یکشنبې په ورځ د دېسمبر ۸ یو مړی موندل شوی دی. دا پنځه لسم جسد دی چې د تېر اکتوبر له پای راهیسې د فرانسې په شمالي سواحلو کې موندل کېږي .

سرچینې د ډېلتا اف ام د خبر په تاییدولو سره ویلي دي، دغه مړی چې په ډېر خراب حالت کې دی بلان نې سیمې ته څېرمه د هغو کسانو له خوا لیدل شوی چې د اسکال د ساحل په اوږدو کې یې قدم واهه. موندل شوی جسد ژغورونکو او امنیتي ځواکونو ته سپارل شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د روان کال له اکتوبر څخه د نومبر تر نیمایي پورې انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتیو تر ډوبېدو وروسته په اوبو او یا په سواحلو کې ۱۴ مړي موندل شوي وو. د پا دو کالې د قومندانۍ د شمېرو له مخې، د ۲۰۲۴ د جنورۍ له لومړۍ نېټې راهیسې لږترلږه ۷۲ مهاجرو برېتانیا د اوښتو پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکړی دی .

پر له پسې پېښې



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

له دې وړاندې فرانسوي چارواکو خبر ورکړی و چې د سوم سیمې په کان ساحل کې یې د نومبر په ۲۰مه یو جسد موندلی دی. د اوروژني او ژغورني ادارې د عامه اړیکو دفتر یاد اژانس ته ویلي وو چې د جسد له موندلو وروسته روغتیایي دلې د پېښې سیمې ته تللي، خو د زیاتو جزیاتو له ورکولو یې ډډه کړې وه.

چارواکو د نومبر په ۱۷مه هم د والد په نوم سمندري څراغ ته نږدې د پا دو کالې د هېم دو مارک په ساحل کې یو بل جسد موندلی و. د دغه مړي له موندلو څخه یوه اونی مخکې دوه نور جسدونه د د سانګت او ویسان په سواحلو کې موندل شوي وو.

همدارنګه، څو اونی وړاندې د بولونی سور مېر ښارنوال ګیرېک لو برا د فرانسي خبري اژانس ته ویلي وو چې د نومبر له ۵مې راهیسې د انګلیس کانال په اوبو او همدارنګه د کالې په ساحل کې ۵ جسدونه موندل شوي دي. دغه چارواکي ویلي وو چې امنیتي ځواکونو درې جسدونه په سمندر کې او یو بل جسد بیا د کالې په یوه ساحل کې موندلي دي.

سربېره پر دې، د اکتوبر په ۲۳مه د کډوالو د یوې کښتۍ د ډوبېدو له امله درېو کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړی و. هغه مهال سازمانونو ویلي وو چې یاده پېښه کې څه باندې لس کډوال لادرکه شوي دي. د اکتوبر په ۳۰مه هم انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې له امله یو شمېر کسان مړه او لادرکه شوي وو.

»ګڼه ګوڼه او استرس«

کالې کې د اوبرژ دو میګران په نوم د کډوالو د ملاتړ سازمان غړې فلور ژودې د نومبر په نیمایي کې کډوال نیوز سره خبرو کې د دغو پېښو په اړه ویلي وو» :تېرو لسو ورځو کې هوا مناسبه وه: د باد سرعت کم و او څپې لوړې نه وې. نو ځکه زیات شمېر کډوالو برېتانیا ته د اوښتو هڅه وکړه«.

فلور ژودې په انګلیس کانال کې د غمیزو د رامنځته کېدو یو شمېر لاملونو ته اشاره کړې او ویلي یې وو چې نن سبا کډوال د پا دو کالې په سواحلو کې د پولیسو د شتون له امله له لرو پرتو سواحلو څخه له اندازې څخه زیاتو ډکو کښتیو کې برېتانیا ته د اوښتو هڅه کوي.

هغې زیاته کړې وه: «د سواحلو په اوږدو کې د امنیتي ځواکونو شتون د استرس سبب کېږي: کډوال هڅه کوي چې په بېړې سره کښتیو ته پورته شي، یو شمېر کسان تر پښو لاندې کېږي چې ښځې او ماشومان هم پکې دي.» له همدې کبله، دمګړۍ ډېری کډوال د ګڼې ګوڼې او استرس له امله د سفر په پیل کې او یا سواحلو ته نږدې خپل ژوند له لاسه ورکوي .

## کانال مانش: امدادگران یک جسد دیگر را در نزدیکی کاله پیدا کردند

مهاجرنیوز



امدادگران فرانسوی روز یکشنبه یک جسد را در آب‌های ساحلی شمال فرانسه پیدا کردند. به گفته مقامات از پایان اکتوبر تا اکنون این پانزدهمین جسد است که در آب یا سواحل کانال مانش پیدا شده است.

به گزارش خبرگزاری فرانسه، یک جسد دیگر بعد از ظهر روز یکشنبه ۸ دسمبر در نزدیکی منطقه کپ بلان- نی در کوت دوپل، به دست آمد. امدادگران بعد از آن دست بکار شدند که شاهدان عینی از وجود یک جسد شناور در آب‌های ساحلی خبر دادند.

مقامات گفته‌اند که به دلیل «پوسیدگی پیشرفته» تشخیص هویت جسد تقریباً ناممکن است اما تلاش‌ها در این زمینه ادامه دارد.

به گزارش رسانه‌ها، مقامات احتمال می‌دهند که جسد چندین روز یا چندین هفته در آب بوده است.

از اواخر اکتوبر گذشته تا کنون این پانزدهمین جسد است که در آب یا سواحل کانال مانش پیدا شده است. به این ترتیب، از آغاز سال ۲۰۲۴ تا کنون دستکم ۷۲ مهاجر در تلاش رفتن به بریتانیا از طریق کانال مانش، جان داده‌اند .

به گفته خبرگزاری فرانسه، تنها از ۳۰ اکتوبر تا ۲۰ نومبر ۱۴ جسد در سواحل شمالی فرانسه یا در آب‌های کانال مانش پیدا شده است.

در آخرین مورد، در ۲۰ نومبر، دو جسد در سواحل شمالی مارک و سوُم پیدا شد .پیشتر از آن، مقامات در ۱۷ نومبر، یک جسد را در ساحل مارک در نزدیکی کاله، پیدا کردند.


در ۲۳ اکتوبر سه مهاجر در اثر غرق شدن یک قایق مهاجران جان خود را از دست دادند. به گفته سازمان‌های خیریه، بیش از ده مهاجر در این حادثه ناپدید شده‌اند. همچنین شاهدان عینی مهاجر نیوز گفتند که در اثر غرق شدن قایق مهاجران در کانال مانش در ۳۰ اکتوبر، تعدادی جان باختند و عده‌ای ناپدید شدند.

**خطرات مسافرت با قایق‌های کوچک در کانال مانش**

**مقامات فرانسوی همواره در مورد خطرات امواج بلند آب در کانال، ازدحام بیش از حد کشتی‌ها، شمار بیش از حد مهاجران در قایق‌های بسیار کوچک، وعده‌های دروغین قاچاقبران انسان و عدم ستفاده از واسکت نجات در این سفرها هشدار می‌دهند.**

**اما بسیاری از این مهاجرانی که می‌خواهند با قایق‌های کوچک از طریق کانال مانش به بریتانیا بروند، اطلاعات کافی در مورد خطرات یاد شده ندارند و نمی‌دانند چگونه برای سفر با قایق آماده شوند و در صورت خطر چگونه از خود محافظت کنند.**

خبرنامه




مناطق سواحلی حرکت مهاجران از فرانسه به سوی بریتانیا. گرافیک: مهاجر نیوز

**ماتیلد، هماهنگ کننده پروژه اطلاعاتی کانال مانش به مهاجر نیوز می‌گوید که سفر با قایق از سواحل فرانسه تا بریتانیا احتمالاً حدود ۷ تا ۸ ساعت طول می و فاصله تقریبی سواحل فرانسه و بریتانیا ۳۰ کیلومتر است.**

**او به مهاجران توصیه می‌کند که قبل از سفر، وضعیت قایق را بررسی کنند. یعنی موتور قایق باید درست کار کند و تیل کافی داشته باشد. ماتیلد می‌گوید که مهاجران باید وضعیت آب و هوا را نیز بررسی کنید، هرگز قایق را ترک نکنند و همچنین تیلفون‌های تان را چارج کنند تا بتوانند در صورت نیاز، با امداد گران تماس بگیرند. مسافرت با قایق، بدون پوشیدن لباس گرم و واسکت نجات، کار بسیار خطرناک است.**

خبرنامه